شعر

علميت زيب اوزينت دي هرانسان ته

جهالت لوی مصيبت دی هرانسان ته

تل دپوهې پسې گرځه په هرځای کې

کسب اوعلم سنه دولت دی هرانسان ته

که څوك پت اوسعادت وځان ته غواړي

علم پت اوسعادت دی هرانسان ته

لغات	معنی
زيب	سنگلا
مصيبت	غم
سعادت	نيکمرغی
پت	عزت

له زده کوونکو څخه وغواړی چې پورتنی شعر یاد کړي اوپه نوبت سره دی له یادو په تصدیق کی ولولي .

د ماتم پسرلی

څنګه به لمانځم لویه خدایه دا دغم پسرلی
دا درد و نوګړاو نرد ماتم پسرلی

راغی بهار خو ماته مخکې شهیدان پرانه دي
رانه لې پلاره او لې مورۀ یتیمان پرانه دي

په داسې وخت کې به زه څنګه یادوم پسرلی
دا درد و نوګړاو نرد ماتم پسرلی

هغه بهار چه به لې زړه و نوته فرحت ورکاوه
دغوی څوند او خوشحالو به لې دعوت ورکاوه

دوومیاشتې زیږی د وصلت ورکاوه

په زیږو ګلوبه یې غږونه زینت ورکاوه

ننۍ بدل شویدی په درد او په الم پسرلی

داد در دونو کړاونو د ماتم پسرلی

لغات	معنی
لماغلل	پرانستل
کړاو	زحمت
ماتم	غم
فرحت	خوښي
وصلت	پیوستون
الم	درد

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه عدل او تقوی

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه په خپلو تولو خبرو او کارونو کې خورا امین او رښتین و. د ځان او نورو په حق کې به یې همیشه رښتیا ویل.

هر مسلمان ته به یې په ډېره ستر ګه کتل او ځان یې له نورو مسلمانانو څخه پورته نه ګانه د خپل ځان د عزت په خاطر یې څوک نه بې عزته کول او په هره معامله کې به یې د اسلامي عدالت څخه کار اخیسته.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه د ډېر پاک زړه خاوند او قانع مسلمان و. د بیت المال یې په ډېر احتیاط سره ساته او له بیت المال څخه یې یوه روپۍ هم د ځان په ګټه نه لګوله.

همدارنګه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه د خپل رحلت په وخت کې خپله لور د بې بې عایشه رضی الله تعالی عنها

راوغوښته او ورته يې وويل : زما لوري !
لـــه مرګ څخه وروسته يې د مال حساب وکړه
هرڅومره مال چې زما له خلافت څخه وروسته زيات
شوی وي ، سره د دې جاموچې زما په غاړه کې دي
دا ټول هغه خليفه ته ورکړه چې له ما څخه وروسته
مقرر يږي .
هغه وخت چې زه د مسلمانانو په خدمت بوخت وم ،
لـــه دې مالونو څخه ما خپل حق په اندازه ګټه اخيستې
ده نو همدا يې بس ده . کـــله چې دا مالونه
عمر رضي الله تعالى عنه ته سپارل کيدل فـــوله ستر ګو څخه يې
اختيار اوښکې روانې شوې او ويې فرمايل :
« خداى جل جلاله دې پر ابوبکر صديق رضي الله تعالى عنه رحم کړي
چې د هيڅ کار لپاره يې خاى تش نه دى پرېښى . »
هغه خلفا وته چې تر ده وروسته راځي ، ده ډکار دى

تطبیق کول اوسرته رسول څه آسان کار نه دی .

---

۱ - ښاغلی ښوونکی دې د درس سخت اومشکل لغات زده کوونکوته معنی کړي .

۲ - ښوونکی دې د درس یوه انتخابی برخه په زده کوونکو باندې داملاء په شکل ولیکي .

له زده کوونکی څخه وغواړي چې د حضرت ابوبکر صدیق رضی اعمال بیان کړي .
اوم دی هغه وصیت بیان کړي چې حضرت ابوبکر صدیق رضی د خپل رحلت په وخت کې د خپلې لور د بی بی عایشه رضی په باب فرمایلی وو .
حضرت بی بی عایشه رضی د حضرت ابوبکر صدیق رضی د رحلت څخه وروسته څه وکړل او حضرت عمر رضی حضرت بی بی عایشه رضی ته څه وویل ؟

پښتو الفبـــاء

۱- د پښتو ژبې د الفبا توري د يرش اوپه دې دول دي:

ا ، ب ، پ ، ت ، ټ ، ج ، چ ، څ ، خ ، ځ ، د ، ډ ،

ر ، ړ ، ز ، ژ ، ږ ، س ، ش ، ښ ، غ ، ک ، ګ

ل ، م ، ن ، ڼ ، و ، ه ، ی .

په دغو توروکې (۲۲) توري د پښتو او فارسی ترمنځ شریك دي او نور اته توري يوازې په پښتوکې راځي اوپه فارسي کې نه راځي اوهغه دا دي :

ټ ، ډ ، ړ ، ږ ، څ ، ځ ، ږ ، ښ ، ڼ

۲- د پښتو په ديرشو توروکې (۲۶) توري چې توري او څلور توري کومکي توري دي .

۲- په پښتوکې د عربي ژبې دغه لس توري په مستعار دول استعمالیږي :

(ث ، ح ، ذ ، ص ، ض ، ط ، ظ ، ع ، ف ، ق ،

مکرد پښتو په کلمو کې دغه توري نه راځي اوکه په کومه کلمه کښې راشي نو هغه به اصلاً پښتو نه وي . په کلمو کې د پښتو د الفباء تورو مثالونه دادي :

آس ، باغ ، پلار ، توده ، تولګی ، جامې ، څوکۍ څراغ ، خټکی ، ځمکه ، دیوال ، دودی ، روند زنه ، ژبه ، زلمی ، سترګه ، شپه ،ښځه ، کور ، ګوته اوداسی نور .

لغات	معنی
مستعار	هغه شی چې به عاریت سره اخیستل شوی وی .
چپ	غلی
اصلاً	له بیخه

له زده کوونکو څخه دې وغوښتل شی چې د الفبا دولونه بیان کړی .

غورځ ویناوي

۱ـ هسې ښځینې دوستان ومومئ چې په ښه ورځ مو مجلس پرې ښایسته وي، او په سخته ورځ مو ملا پرې وتړل شي. (حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه)

۲ـ هر څوک چې زموږ عیبونه راښي، پاک خدای دی پرې ورحم ږي. (حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه)

۳ـ غم او ناامیدي د بیکاره خلکو صفتونه دي.

(حضرت علی کرم الله وجهه)

٤ـ دسې قدر کول د هغه علم او ادب په اندازه په کار دی، نه هغه دولت او نسب په اعتبار

(حضرت علی کرم الله وجهه)

۵ - له هغه تلاوت نه چې بې فکره کيږي ، له هغه عبادت څخه چې په غفلت اجراء کيږي اوله هغه علمه چې بې فهمه زده کړی شي ، هيڅ خير او برکت لنشته .

« حضرت علی کرم الله وجهه »

ښوونکی دې پورته حکيمانه خبرې په ساده الفاظو سره زده کوونکو ته توضيح کړي ، اوزده کړونکي دې په مطلب ښه وپوهيږي .

لغات	معنی
عيبونه	نيمګړتيا
اعتماد	باور
تلاوت	د قرآن مجيد لوستنه
عبادت	ربّ پالی

حمد

په نامه دهغه خدائ[1] می دابیان دی
چې یونوم یې په نومونوکې سبحان دی
هم پادشاه دی د جمله وبادشاهانو
هم دهریو سلطان په سرسلطان دی
هغه کارچې وهرچاوته مشکل دی
هغه کارواړه وده وته آسان دی
څوك آفتاب شي په آسمان راخیژولی؟
ده آفتاب راخیژولی په آسمان دی
څوك دلمر په مخ حجاب شي غورځولی
ده پټ کړی لمر په ابرکې پنهان دی

۱- نورنکی صاحب دې د دې درس مطلب شاګردانوته ووایي .
۲- د دغو لغاتو څخه جملې جوړې کړې : غورځول ، واړه ، خیژول .
۳- پورتنی نظم ښکلی .

لنډی

ځان په اسلام توټي توټي کړه
هره توته په دې الله ج. ناري وهينه

بې لدتقدیره اجل لنډه
وارخطا نشې که جهان وی سړاورونه

مجاهدین چې توپك واخلي
هغه ساعت په دښمن بل کاندی اورونه

شهیدان ټول د خدای دوستان دي
ځکه سرونه د الله ج. په رضا زدینه

شعاریې کړه، کالي، دودی وه
کوریې شو کوره کالي کفن دودی غمونه

آسمان په ستوروښه ښکاریږي
په ځکه ښه د شهیدانو مزارونه

متلونه

۱ - خدایه ج. لوی مې کړې لویې رامدکړی .

۲ - له لوزې مرشه خومنت دارومه خوږه .

۳ - دورغوې تنبا که مرغلره ده .

۴ - اول سلام پسې کلام .

۵ - دکبر کاسه نسکوره ده .

۶ - انسان تابع داحسان دی .

۷ - اُورته خپل اړدی یودی .

ښورنکی دې دپورتنیو متلونو داستعمال ځایونه نرده کړونکوته روایې .

نرده کړونکې دې پورته متلونه په کتابچوکې ولیکی .

حسد او کینه

یوه ورځ ښوونکي په دې هکله خبرې وکړې چې حسد او کینه ښه کارنه دی او کینه ګر سړی تول عمر غمجن اوچپه وي . هسې نه ده کوونکي پخپل وار د دې بد او ناوړه کار په هکله یوځه وویل کله چه محمود ته وار ورسید د جسد په هکله داسې وویل:

« مالد خپلې وړې خور فاطمې سره تل کینه کوله ، کله به چې فاطمه له ښوونځي څخه کورته راغله او د خپل امتحان نمرې به یې موربته وښودلې نو ماته به پرې کینه راتله خینې وخت به مې دغې نمرو د خبرتیا پاڼه ، اطلاعنامه ، څیړوله

کې پلار به ما او فاطمې ته بوتان اخیستل
نو ما به ویده کوله. او نه مې
غوښتل چې فاطمه دې نوي بوټان ولري.
یوه ورځ پلار ما ته یوه جوړه جورابې
او فاطمې ته یو بنه کمیس واخیست ما
دومره وژړل چې د دې ژړا په نتیجه
کې به مې ویلې چې ما ته هم کمیس واخلی. هرځومره
چې مورږا ته وویل ستا مکیسونه ډیر
دي او هیڅ ضرورت ورته نه لرې. مایې خبرې
نه اوریدې په پای کې مې پلار بازار ته ولاړ او
ما ته یې هم یو کمیس راوړ.
ما ته د لوده او په بستره کې پروت وم. پلار
مې له ځانه سره یو کتاب هم راوړلی و نما مورته یې

و ـــــــ ـــــــ ـــــــ

د کتاب تر لوستلو وروسته مې له خان سره فکر
وکړ چې رښتیا کینه بد کاردی ، په خپلو پخوانیو
کړو پښیمانه شوم او په زوره
مې وژړل ، زما د ژړا په غږ فاطمه له خوبه
راویښه شوه . ما ته نژدې راغله او ویې ویل :
« محمود جانه ! وروره اولې ژاړې ؟ » زما اوښکې
یې پاکې کړې ، زما تندی یېښکل کړ ، او بیا یې
راته راوړې او ویې ویل ، « مه خپه کیږه
إن شاء الله بنه کیږي . فاطمه پدې نه
پوهیده چې زه کینې نا روغه کړی یم . سبا دنا
روغې په حال کې بیرته ورځې ته ولاړم ستوله
ورځ په فکر کې وم . کله چې
بیرته کورته راغلم یو سپکې کتابچه مې

واخیسته او دبخښش په ډول مې فاطې ته ورکړه
او بخښنه مې ترې وغوښته مورچې زما دا کار
ولید ډیره خوشاله شوه . له هغې وروسته ما
له فاطې سره دیو مهربان او مینه ناکه ورور
په توګه رفتار کاوه له فاطې سره زما کینه
بیخي له مینځه ولاړه مونږ دواړه یو پر بل باندې
مهربان اوزړه سواند وو او یو تر بله موسره
د خوښۍ او خوشالۍ ژوند کاوه .

سنا غلی منورنکي دې زده کوونکی تشویق کړي چې د حسد او کینې
د بد مرغیو په هکله خبرې وکړي .


يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله وكونوا مع الصادقين
اى مؤمنان چه ايمان آورى دى، اى مؤمنان، وديرى تاسے لرا اخلو
او هسى خالقت مه كوى، او راسى مراد صادقانو ڈكى تاسے او اختيار كا

ربنتيا

حڈه شى چې دسرې شرف او اعتبار د خلكو په نظر كې سائى ، هغه ربنتيا ويل اوله د رواغو څخه سائل دي . لكه چې وائي :

هر شى چې خام وي پخيزي مگر بنى آدم چې خام شي ، بيا نه پخيزي . دلته د بنى آدم له خامى څخه مطلب دروغ ويل او په درواغو مشهورېدل دي .

كه څوك يو څل په درواغو مشهور شو ، هغه كه بيا ربنتيا هم ووائي څوك به يې خبره منې او باور وربانديې نه كوي . څكه چې د مرغلرى يو آب دى

چې آب تري لاړشي ، بيا هيڅ قيمت نلري .
خبره هم لکه مرغلره داسې ده ، چې په درواغوړلې
قيمت له منځه ځي . که درواغجن سړی له چا سره
محبت کوي اوځان ورته دوست ښکاره کوي
خو ک وربانديې يقين نه کوي اوخبرې
دروغ ګڼي . همدغه سبب دی چې درواغجن
سړی دوست اوملګری نه شي پيدا کولی اوخبره
يې هيڅ ارزښت نلري .
ديوچرک په آذان باندې مسلمانان دلمانځه
لپاره لخوبه راپاڅيږي ، چې سبا دی اويقين
وربانديې کوي . مګر د درواغجن په قسمونو
خو ک باور نه کوي اونه يې منې ، نو ويلای
شوچې درواغجن په يوه ټولنه کې هيڅ اهميت
نه لري .

درواغجن سړی کډه څومره ډیری پلیسي ولري یا دعلم اولویي مرتبې خاوندوي ، خلکوته سپک ښکاري اوبې وقاره معلومیږي .

سړی باید په دې وپوهیږي چې په هیڅ وخت کې دروغ نه چلیږي اوددرواغومزل لنډ دی .

که څوک عواري چې په خپل ژوند کښې کامیاب اویولورمقامرته ورسیږي ، اوخلک ورباندې باور ولري ، نولازم دي چې ځان په رښتیا ویلوعادت کړي اوپه همدغه صفت خلکوته ځان وروپیژني .

لغت	معنی
شرف	عزت اوحیثیت
مرغلره	مروارید
ټولنه	اجتماع
وقار	عزت

نعت

زه غلام د غلامانو د حضرت یم
خدایه شکر چه حساب یې په امت یم
خدای ظاهره کړه خدایي دده له مخه
زه قایل دده په دوردسلطنت یم
فریادي راغلی یم حضرته تاله
ولاړ تاته په زاري او په منت یم
د گناه عفوه مې وغواړه له خدایه
دیر په خپلو گناهونو ملامت یم
د سخیانو همیشه خوی د سخاوي
مین شوی ستا په خوي د سخاوت یم

حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها

حضرت عایشه رضی الله عنها د حضرت ابوبکر رضی تعالی عنه لور ده . د نبوت په پنځم کال په مکه معظمه کښ پیدا شوې اود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له بیبیانو څخه ده بي بي عایشه رضی الله عنها ډیره ښکه ، ډیندار ه اوهوښیاره ښځه وه . پر بیوزلو اوغریبانو به یې ډیر رحم کاوه . د اسلام له مبارک دین سره یې زیاته مینه وه . تل به یې د قرآن عظیم الشأن تلاوت کاوه نفلي لمونځونه به یې کول او نفلي روژې به یې نیولې لنده داچې د خدای جل جلاله په عبادت کې به یې ډیر زیار ویسته .

څه وخت چې بي بي خدیجې رضی الله عنها له دنیا څخه ستر کې پټې کړې . نو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دې کاله وروسته بي بي عایشه رضی الله عنها په نکاح اودهجرت

پلوړی کال پې دکوچنۍ اختر په میاشت کې واده کړه.
بې بې عایشه رضی الله عنها لویه عالمه وه . ښځې به یې د اسلام
دین ته بللې . دکورنۍ ژوند اولاد او د اولاد پالنه
به یې ورزده کوله . د اسلام د مبارک دین په
خپرولو کې یې له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره د ډیر
تکلیفونه تیر کړیدي . تر دې چې د اُحد په
جنګ کې یې غازیانو ته د اوبو ورکولو خدمت کاوه
خپله حضرت بې بې عایشه رضی الله عنها دیرې خیر کې اوږه
سنځوله . په نهو کالو کې یې د حضرت محمد
څخه دیرحدیثونه یاد او ضبط کړل ، او د دوه
زره ، دوه سوه ولسو حدیثونو روایت یې کړیدی
همدارنګه حضرت عمر رضی الله عنه او نورو دیرو اصحابو
د حضرت عایشې رضی الله عنها څخه دیرحدیثونه نقل

کړيدي . خُلې پوهان وايي چې په خلورو کې
يوه برخه شرعي احکام د حضرت عايشې رضي الله عنها
په واسطه بيان شوي دي . لويو اصحابو به هم
په مشکلو او سخو مسئلو کې د بي بي عايشې
څخه پوښتنه کوله .
بي بي عايشه رضي الله عنها د لومړي خليفه په کور کې پيدا شوې
وه ، او د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم په کور کې يې ژوند تير
کړی ؤ . د هجرت په ۵۸ کال د ۶۶ کالو
په عمر يې له دنيا څخه ستر کې پټې کړې .
ابوهريره رضي الله عنه يې جنازه وکړه . او په مدينه منوره
کې د بي بي فاطمې رضي الله عنها او حضرت امام حسن رضي الله عنه
سره په يوه هديره کې ښخه شوې ده .

پوښتنې

۱ـ حضرت بی بی عایشه (رض) د چا لور ده ؟

۲ـ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د هجرت په څوم کال بي بي عایشه (رض) واده کړه ؟

۳ـ بي بي عایشې (رض) د څو حدیثونو روایت کړی دی ؟

٤ـ بي بي عایشه (رض) د هجرت په څوم کال وفات شویده ؟

د هیواد مینه

افغانستان زمونږ د ټولو هیوادوالو
ګډ کور دی. زه د خپل هیواد
سره مینه لرم. د آزادۍ او میړنیو
خلکونه خبره او مرکونه پې د میرانې
او ایمان داري زده کړه کوم.
زه د خپل هیواد د غرونو،
دښتو او درو د ښکلو منظرو
پټه ننداره د پېر خوښیږم. د ګران
هیواد له اوسیدونکو سره د مینه
لرم.

دهیواد له آزادی څخه په میرانه دفاع کوم د وطن
د آزادی، عزت او ناموس د ساتنې په لاره
کې قربانی اوسې ښندنی ته تیاریم د خپل وطن
د آبادی اوسمسورتیا لپاره زیار ویاسم په خپلو
زده کړو کې دیرکوښښ کوم چې د علم او پوهې
په وسله سمبال شم د هغې په رنا کې دهیواد
د لوړتیا اوپرمختګ لپاره کار وکړم.

لغت	معنی	لغت	معنی
مینه	محبت	سمسورتیا	تروتازه- غوړیدلی
سمبال	ترتیب اوتنظیم		

سیاسي ښوونکی دې دهیواد دمینې په هکله زده کړونکوته بشپړ معلومات ورکړي اوهم له زده کړونکوڅخه وغواړي چې دهیواد دمینې په هکله خبرې وکړي .

میلمه پالنه

ای عزیزه میلمه بنه گنه له خانه
چې میلمه ګډلوی عطا د پاک سبحانه
هر میلمه روزي راوړي له خپل خانه
بیا مرض اوګناه ټوله وړي له تانه
هغه څوک چې دښمن دلوی جبار وي
نو میلمه ته به دی ترش اوډیر په قار وي
میلمه بولې خو ګرانه دې عزیز
چې رحمن ته عزتمند شي په لږ چیز
هر مومن چې د میلمه عزت په خان کا
نو خوشحاله به خپل خدای ج خپل خان کا

لغات	معنیٰ	لغات	معنیٰ
عطا	بخشش	عزیز	ګران
جبار	زورور		

دمیلمه نه دي چه طبع شي ملوله

نوخپه به شي له تا خدای ج او رسوله ﷺ

چې میلمه ته دې په وړین تندي نظر وي

د خالق د لطف په تا باندې ګذر وي

له تکلیفه لرې اوسه خُـــما وروره

چې میلمه په تا وانه چوي هیڅ زوره

عزت ورکړه د خپل توان قدر میلمه ته

چه کافروي هم د ورپیرانیزه اوچته

میلمه یوښه عطا ده له کریمه

ترې پټیږي هغه څوک چې وي لئیمه

که هوښیارې غوښته مه اچوه دولته

چې میلمه راشي ورته پاسیږه اوچته

نا بللی دچا کورکې میلمه نه شې
چې میلمه دې کورته راشي خفه نه شې
هغه څوک چې د میلمه ډیر احترام کا
په عالم کې به په خپله ځان نیک نام کا
چې میلمه دې په کور راشي خاص اوعام
نو فوري ورته را واخله خپل طعام
ای عزیزه هغه شی چې ستا په لاس وي
د میلمه مخ ته یې کیږده که اخلاص وي
کردا ډیره وي یالږه پروا نشته
چې تکلیف زمور اسلام کې په چا نشته

لغت	معنی	لغت	معنی
مینه	محبت	ملول	مړاوی

محترم ښوونکی دی لږده کوونکو سره مرسته وکړي چې د میلمه پالنې په هکله خبری وکړی .

نصیحتونه

۱ـ خاوند تعالی جل جلالہ پیژنلی ، په اخلاص پی عبادت وکړئ ، امرپی پرځای کړئ اولہ نواهیو څخہ پی ځانونہ وساتئ .

۲ ـ دعلم په حاصلولو اوزده کړه کې دیرکوښښ وکړئ چې نیکرغه شی .

۳ ـ څه چې مونه وې نړده په پوښتنه پی مه شرمیږئ ولې هرڅوک چې په پوښتنه کې شرم کوي ناپوه پاتې کیږي .

٤ـ لهبیکاری څخه ځان وژغورئ چې دخواری اوبد بختی سرچینه ده .

۵ ـ صداقت اوریښتاویل دځان عادت وګرځوئ .

٦ ـ له دروغو څخه ځان وساتئ ځکه کهیوواړ په دروغو مشهورشوئ ، بیا څوک ستاسې په ریښتیا

کـه هرځوزه ګنهګاریمه خاونده
منتظره ستا کرم ته په قیامت یم
له چشمانو مې بهیزي رودا وښکو
په سجده د عجز پروت په هرساعتیم
یا حضرته! ته شافع د خپل امت یې
زه عاجز یو امتي ستا د امت یم
په ژوند بوله سید محمد خپلی روضې ته
رسوونکی ددي عرض ستا په خدمتیم

لغات	معنی	لغات	معنی
صفت	ستاینه	شافع	بخښنه غوښتونکی
رود	سیند	کرم	مهربانی
عفوه	بخښنې	سلطنت	ټولواکی

بیانی بیټ ددی شعر د هر بیت مفهوم په ساده ژبه توضیح کړی او بیا دې پورته کوونکی ولولې او بیل دی تشریح کړي.

خبروهم باور نه کوي .

۷ - له اسلام سره زيا ته مينه ولري او د اسلام د پر مختک په لاره کې له ځان او مال څخه تيرشئ .

۸ - که غواړئ چې دوستان مو د يروي د سنو اخلاقو خاوند ان اوسئ .

لغت	معنی	لغت	معنی
هيواد	وطن	قربانی	ديوشی نه تيريدل
دفاع	مخنيوی	سمبال	تنظيم او ترتيب

زده کوونکی دی تشوين شی چې د خپل هيواد په هکله خبری وکړی .

گرانو زده کوونکو ! پورته نصيحتونه په ياد و زده کړی ، په خپل کتاچو کې يې په ښه خط وليکی او په خپل ژوند کې يې پر ځان عملي کړی .

له خلکو سره خواخوږي

د مریض پوښتنه وروره په هرآن کړه
خان دې دوست دخپل نبيؐ آخرزمان کړه

څودې توان وي مارې ، تږي په اوبو کړه
د ښو خلکو خدمتونه په اوږو کړه

وږی خلک چې مارې په لحاظ د خدائؐ کړې
به جنت به خان د خدائؐ په امرځای کړې

یادې لوڅ بدن پوښلی په لباس کړې
د خالق په رحم به خان د خاص و خاص کړې

هغه څوک چې لوڅ اندام په جامه پټ کړي
په دوو کونو به دی خدائؐ پخپله پټ کړي

که پوره کړې ته حاجت د محتاجانو
ستا په سر به جوړه کښیږي د دنیکانو

هغه څوک چې دسنه بخت په انتظار وي

خیر خیرات به یې هر شپه او هر سهار وي

هم په پیسو هم سنکاره کې یې خیراتونه

دخپل خیر په چاهیڅ نه بدي منتونه

که ته خیر کړې هغه مه ګڼه له ځانه

چې دخدائ ﷻ په لاس دی ټول مال او ځانه

نو که خیر کوې هغه دی مال دخدائ ﷻ یې

دخپل خدائ ﷻ په ورکړه هیڅ وخت ځان مه ستایه

لغات	معنی	لغات	معنی
خواخوږی	زړه سوی	جوغه	تاج
کټن	جهان	ستایل	صفت کول

۔ زده کوونکي دې تشویق شي چې دخواخوږۍ په هکله پخپله ژبه معلومات بیان کړي .

زده کوونکي ته کورنۍ وظیفه ورکړه شي چې دخواخوږۍ مثالونه له بل چا نه زده کړي او بیا یې په ټولګي کې بیان کړي .

سید جمال الدین افغان

سید جمال الدین افغان د سید صفدر زوی وو چې په ۱۲۵۶ هـ کال کې د کونړ د اسعد اباد د سیدانو په یوې دیندارې کورنۍ کې زیږیدلی ؤ.

نومورې د یرلوی عالم او د افغانستان لوړ پوړ مشهور او لوی مخ وو.

سید جمال الدین افغان د امیر شیر علی خان په زمانه کې د حکومت لپاره اسلامي اساس ایښودل غوښتل، خو نه یوازې داچې د اسلام د مقدس دین اساسات د حکومت له خوا تطبیق نشول بلکه پخپله سید جمال الدین افغان هم د اسلام د دښمنانو د مخالفت په سبب د خپل پلرني هیواد په پریښودلو مجبور شو.

سید جمال الدین افغان ایران، حجاز، مصر، هند، ترکي او ځینې نورو اروپایي هیوادونو ته سفرونه کړي دي.

په دغو ټولو هیوادونو کې یې اسلامي تبلیغ کاوه
شاګردان به یې تربیه کول او دنړۍ مسلمانان یې
دخپلې اولویدیځ د استعمارګرانو په ضد اتحاد
او قیام ته راوبلل .

لنډه داچې سید جمال الدین افغان د اسلام د مقدس
دین لپاره دیرخدمتونه کړیدي چې نن ورځ دنړۍ
د ټولو مسلمانانو لپاره دافتخار وړ دی. دغه ستر شخصیت
سید جمال الدین افغان په ۱۸۹۷ع، کال په ټرکیه کې
وفات شو او په ۱۹۴۴ع، کال یې کابل ته راوړل شو
کابل ښوهنتون په ساحه کې خاورته وسپارل
شو .

ښوونکي دې د سید جمال الدین افغان درس زده کوونکو ته په لنډه ډول تشریح کړي
ګرانو زده کوونکو! دالاندې لغات دې مناسبو جملو کښې استعمال کړي.

اسلام - مقدس - اتحاد - اساس - ستر -

عن سهل بن سعد قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من ضمن لي ما بين لحييه وما بين رجليه أضمن له الجنة رواه البخاري

روایت دی له سهل بن سعد څخه ویلی دي ده چې فرمایلی دي حضرت محمد ﷺ چې څوک چې ضامن شي ما ته
د هغه څیز چې په منځ د دوو ژامو دی، کې دے او د هغه څیز چې په منځ د دو پښو دی، کې دے
یې نو زه به ضامن شم ده ته د جنت پر دې کار کې

د رازساتنه

له دې سره بنوا وغوره اسلامي صفتونو څخه یو صفت د راز ساتل دي. څوک چې د بل انسان راز ساتي پرهان د داسې خلکو محبت د ډیر ښه ستایي. په هر مجلس کې چې قدر کیږي او هیڅوک ورڅخه ځان نه کوښه کوي.

بالعکس هغه څوک چې د مجلس راز نشي ساتلای او د مجلس راز د باندې وباسي، هیڅوک یې نه خوښوي او نه څوک د ده سره حال ورته وایي خلک یې په بده سره ستایي، ناپوه یې بولي، بې مغزه ورته وایي او زیاربا سي چې د داسې سړي له مجلس څخه لیرې وي

پردی لاحه کوي، خپل خپلوان هم ورځنې بیزاره وي
اوخپل راز ورته وایي .
که په یوځای کې مجلس وي اوپه یوه ناڅیزه خبره
یاموضوع بحث کیږي نو دمجلس غړي داحق نه
لري چې د مجلس راز د مجلس څخه بهر بل چاته ووایي
اوکه د مجلس له غړو څخه یوتن د مجلس له اصولو
اوقوانینو څخه مخالفت وکړي د مجلس رازبهر بل چاته
ووایي نوله یوې خوا به په تولنه کې خپل اعتبار له
لاسه ورکړي اوله بلې خوا به د مجلس دغړو په
ویاندې سپک اوبې قدره ښي .
ددې لپاره چې خپله اسلامي وظیفه ترسره کړه نو
لازمه ده چې د راز ساتلو حس په ځان کې ورپیدا
اوکوښښ وکړو چې د مجلس راز ونه د باندې ونه وایو.

لغت	معنی
صحبت	مجلس
بالعکس	سرچپه

گرانو زده کړئ! د لاندې جملو په خالی ځایونو کې مناسبې کلمې ولیکئ.

د ډیر وښوا اوغوره صفتونو څخه یو صفت . . . . .

سائل دي.

لازمه ده چې د راز سائلو . . . په ځان کې وروزو .

د لاندې پوښتنې ځواب په خپلو کلمو کې ولیکئ:

د راز سائنه د انسان لپاره څه ګټه لري؟

کلالي

یوه ورځ سنوونکي لخپلو زده کوونکو څخه داسي پوښتنه وکړه : «هغه خلک چې ستاسي د کور نیو په شاوخوا کې ژوند کوي زمونږ سره څه ډول مرسته کوي ؟

اجمل ژړلاس پورته کړاووې ویل: زمونږ د کور په څنګ کې یو کلال اوسیږي . کلال زمونږ لپاره دختي نه لوښي جوړوي » .

ببرک وویل : « بزګر زمونږ لپاره غنم ، جوار وریجې او نور شیان کري » .

اخترګل وویل : « ترکان زمونږ لپاره دلګیر نه کړکۍ ، دروازې ، میز ، چوکۍ او داسي نور شیان جوړوي » .

ښوونکی وویل : پرسنه، تاسې د دوی د کارونو په باره کې نښه معلومات راکړئ. بازګل پوښتنه وکړه : معلم صاحب، کلال څرنګه له خټو څخه داسې ښکلی لوښي جوړوي ؟ موږ هم کولای شو چې له خټو څخه داسې شیان جوړ کړو ؟

ښوونکي وویل : هو، خو اکار ځانته پوهه او تجربه غواړي . ریدي وویل : که موږ د کلال کار وګورو نو ښه به وي چې ځنې شیان ورڅخه زده کړو .

لغت	معنی	لغت	معنی	لغت	معنی
مرسته	کومک	لوښی	ظرف	ښوونکی	کرونده ګر
پوهه	دانایي	تجربه	آزمایښت	تړکان	نجار

محترم ښوونکی دې زده کوونکو ته لارښوونه وکړي چې بودښوونکی بل دا جمل اوبل دا څو ګل عمل اجرا کړي . بازګل څه وویل ؟ اوبیا ښوونکی څه وویل .

له زده کوونکی څخه پوښتنه وکړئ چې ښوونکی څه شیان کړی . نومونه یې واخلئ . اوهم وپوښتل شي دخپلې پیشې بیان کړي .


وما ينطق عن الهوى ان هو الا وحي يوحى
او خبري نه کوي محمد له هوا خپلي نه
نه دی دغه قرآن مګر وحی ده چه ورته لیږلی شوی
سورة النجم
پاره (۲۷)

د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ویناوي

۱- حقیقي مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان دهغه د ژبې او لاس له شر څخه په امن وي. او حقیقي مهاجر هغه څوک دی، چې کومو څیزونو پاک خدای جل جلاله منع کړی وي، له هغه څخه ځان وساتي.

۲- په جومات کې په جماعت سره لمونځ کول د کور د لمانځه څخه پنځه ویشت درجې فضیلت لري.

۳- څوک چې د مسلمانانو د کار و نو واک په لاس کې ونیسي او دهغوی په حق کې خیانت وکړي، پاک خدای ج به جنت

ایمل وویل : معلم صاحب، خوښه دی۔
دا چې موږ دکلال دکارخای ته ولاړشو.

ښوونکي وویل : ډیره ښه ، سبا به دکلال
دکارخای ته ولاړشو. سهار چې زده کوونکی
ټولګی ته راغلل، ښوونکي ورته وویل : دمخه
تردې چې کلالی ته ولاړشو، کوم کوم شیان باید
په نظر کې ونیسو؟ .

اسد وویل : موږ باید دلاري په یوه غاړه
ولاړشو.

زمرک وویل : باید پام وکړو چې موټر یا
سرویس موونه وهي .

سورګل وویل : د دې لپاره چې په کلالی
کې څه شی مات نکړو لوښو ته به لاس نه ورورو.

سنو ونکی وویل : ډیرې ښې نظریې مو
ورکړې. کرچیرې مو بډ ددې خبرو مراعات
وکړو، له دې کتنې نه ډیر خوند واخلو، بیا یې
پوښتنه وکړه ، تاسې به کلالی کې له کومو شیانو
سره مینه لرئ ؟

بازګل وویل : کلالي زده کوم .

فرید وویل : زه د کلالی د څرخ رسم کاږم .

ببرک وویل : زه غواړم د کلالی څرخ وینم.

لغت	معنی	لغت	معنی	لغت	معنی
مراعات	په پام کې ساتل	خوند	مزه	مینه	محبت

له زده کوونکی څخه دی پوښتنه وشي چې دا کیسه په خپلو کلمو بیان کړي ، وم وهڅول شي چې دلوښو د سنه ساتلو په هکله خبرې وکړي .

ښوونکی وویل: ربنتیا چې تاسې ښه فکر کړی دی، خو داخبره مه هیروی، کله چې بیرته ټولګی ته ورسید و بیا به دخپلې کتنې په باره کې خبرې وکړو.

زده کوونکي دلاړې په غاړه کلالی ته روان شول. کله چې کلالی ته ورسیدل ښوونکي وویل وګورئ دلته څومره مات لوښی پراته دي.

دکلال دکور مخکې دکلال زامنو اولوښو کار کاوه. خینو خټه په لرګیو وهله او خینو خاورې غلبیلوله. ښوونکي دکلال سره روغبړ وکړ.

ببرک تر ټولو دمخه شو او پوښتنه یې وکړه: کلال ماما! داخاورې ولې په لرګیو وهې؟

کلال وویل: ددې لپاره خاورې په لرګیو

وهي چې سنه میده شي .

اجمل پوښتنه وکړه : ولې دوی خاوری غلبیلوی ؟ کلال وویل : خاوره ځکه غلبیلوي چې وړې تیږې ځنی جلا شي .

جمال پوښتنه وکړه : کلال ماما ، داخاوره له کومه ځایه راوړې ؟ کلال وویل : دغه څخه یې راوړم . داخاوره په هرځای کې نه پیدا کیږي .

لغت	معنی	لغت	معنی	لغت	معنی
کتنی	لیدنی	روغبړ	سترې مشی	جلا	بیلول

زده کوونکو ته دی لارښونه وشي چې پوزده کوونکی د معلم صاحب ، بل د ښوونځي ، بل د اجمل او بل د جمال کار بیان کړي .

زرغون وویل : خته څنګه جوړوی ؟

کلال وویل : کله چې خاوره له وړو ډبرو څخه به غلبیلو جلا شي بیا اوبه پکښې اچوو چې سنه پخه شي . کله چې خته سنه پخه شوه نو بیا یې څرخ ته راوړو . کلال لومړی یو څه خته را اخلي پرشګو یې ږدي چې په څرخ پوری ونه نښلی بیا تورې خته را اخلي دیوه غټ مار په شان یې جوړوي وروسته دغټې مار پر څرخ باندې ږدي.

سورګل پوښتنه وکړه : کلال ماما ! لاس دې ولې دومره ژر ژر په اوبو لندوي ؟

کلال وویل : ددې لپاره لاس په اوبو لندوم چې خته مې په لاس پورې ونه نښلي .

توریالی وویل : کلال ماما ! دلـــوښي

مخ ته ولی دومره په کراره لاس ورنه باسې؟

کلال ځواب ورکړ: ددې لپاره چې دلونې مخ هم سم جوړشي په کراره لاس ورنه باسم.

ریدي وویل: وګورئ، څه ښه نقش يې ورباندې وکښې او څومره ښکلی لونبی ځنې جوړشو. حامد پوښتنه وکړه: کلال ماما دا منګی څوورځې لمر ته وږدې؟

کلال وویل: څلور یا پنځه ورځې چې ښه وچ شي نوبیا په داش کې نه ماتیږي.

لغت	معنی	لغت	معنی
شګی	میدشوی دبری	دبری	تیږی

زده کړونکی ته دی لارښوونه وشي چې دا درس د درامې په ټوګه ټمثیل کړي.

۵

ایمل پوښتنه وکړه : کله چې دالونۍ وچ شوبیاځې پرې کوئ ؟ کلال وویل : په داش کې یې بدم چې پاخه شي . راځئ چې داش هم دروښیم . زلمي وویل : دا داش خوږیږ ژوردی اویو پورلري . کلال وویل : نه دوه پوړه لري . لومړی لونبې په کراره د داش په پاسنۍ پورکې بدم اوبیا اوربه لاندنی پوړ کې بلوم . دوه ، دریې ساعته وروسته لونبې په پاسني پورکې پخیږي . ایمل پوښتنه وکړه : داتاوده لونبې څرنګه له داش څخه راباسې ؟ کلال وویل : ترهغه وخته ورته ګورم چې داش سوړشي بیالونبي ځني راباسم . زرغون ته سودا ورولویده او ویې ویل : کله چې لونبې له داش

څه را وباسي نو پخپله له دې ژوړ داش څخه څرنګه راوځي ؟ کلال وخندل او ويې ويل : په ديوال کې داتاچې وينې ؟ په دې تاچې کې پښه ږدم او راخيژم بنو ونکي اوزده کړونکو په ګډه د کلال ماماد معلومات او تجربې څخه پيره ګټه واخيسته او د تلو په وخت کې يې تشکر وکړ. ايمل وويل : مور پيرشيان په دې کتنه کې زده کړل ، اوس بنو ونځي ته ځو. مور هم غواړو چې ستا په شان له خپې څخه ځان ته شيان جوړ کړو. کلال وخندل او ويې ويل : بنه خبره ده خو زما په نظر په کلالي پيرزيار او تجربه غواړي .

لغت	معنی	لغت	معنی
تشکر	مننه	زيار	کوښښ

زده کړونکی ته دې لاربنوونه وشي چې دا درس په خپلو منځونکی تمثيل کړي .

د حضرت عثمان رضی الله عنه تقوی او سخاوت

حضرت عثمان رضی الله عنه د اسلام پرا صولو پابند خلیفه
و . په هره معامله کې به یې اسلامي انصاف څخه
کار اخیست .

له ظلم ، خیانت او د خلکو له حق څخه به یې ډیر
ځان ساته .

حضرت عثمان رضی الله عنه به زیات وخت د لمانځه له ادا
کولو وروسته په جومات کې کیناسته خلکو
په عرایضو به یې ښه غور او فکر کاوه او د اسلامی
شریعت په اساس به یې احکام ورکول .

له خلکو سره به یې داسې مرکه کوله ، لکه چې سړی
یې د خپل یو نږدې دوست سره کوي . د تولو
خلکو د مشکلاتو په باره کې به یې پوښتنې کولې
د مسلمانانو په هوسایي او سوکالۍ کې به یې ډیر

زیار ولیسته ، که په یوه مسلمان به لږه سختي هم راغله
نو افسوس او خفګان به یې ښکاره کاوه . اوترخپلې
وسې به یې وړه مرسته کوله .
وایي چې یو وخت په مدینه منوره کې سخته قحطي
اولوړه پیدا شوه ، په دې وخت کې د حضرت
عثمان رضی الله عنه د زرو اوښانو قافله لـه شام څخه راغله
د قـافلې د ټولو اوښانو غله یې د مدینې منورې
پر بیوزلو اوغریبانو په وړیا د ډول وویشله .
همدا رنګه حضرت عثمان رضی الله عنه د پنځه ویشت زره
روپو څخه واخیسته او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته یې د
مسجد شوی د پراخه کولو لپـاره وقف کړه .
لنده دا چې حضرت عثمان رضی الله عنه د ټولو مسلمانانو
زړونه ساتل . دهرچا په خوشحالۍ کې به یې زیار
ویسته اوغوښتل یې چې ټول مسلمانان هوسا

ورباندې حرام کړي .

٤ - څوک چې د خلکو په کار ونو مقرر شي او خپله ، دروازه د مظلوم او حاجت لرونکو پرمخ وتړي، پاک خدای ﷻ به هم د خپل رحمت دروازه د ده پرمخ وتړي .

٥ - په مسلمانانو کې سړی کوږ هغه دی چې په هغه کې یتیم وي. او سړی روبه وږه کیږي او بد کوږ هغه دی چې په هغه کې له یتیم سره نا وړه روبه کیږي .

٦ - د مظلوم له سپیرا څخه ځان وساتی ، ځکه مظلوم د سپیرا په کولو خپل حق له خدای ﷻ څخه غواړي. او خدای ﷻ د هیچا د حق له ورکولو څخه منع نه کوي .

٧ - عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه، وویل : د رسول اکرم ﷺ څخه یوچا پوښتنه وکړه چې : کوم عمل د خدای ﷻ دیر خوښ دی ؟

او آرام ژوند وکړي .

مونږ ټولو مسلمانانو ته لازمه ده چې د دوی تګلارې تعقیب کړو، چې دهوسا او آرام ژوند خاوندان شو .

لغت	معنی
هوسا	آرام
زیار	زحمت ، تکلیف
تعقیب	پیروی
سوکاله	آرام ، راحت

بنا غلی ښوونکی دې له زده کوونکو څخه وغواړي چې د حضرت عثمان رض دوست په خپل سره مطالعه وکړي او بیا دې د حضرت عثمان رض ژوند لنډ زده کړه بیان کړي .

امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه)

د امام ابوحنیفه ،رح، نوم نعمان او د ثابت خوی دی.

امام ابوحنیفه،رح، اصلاً افغان دی او نیکونه یې له افغانستان څخه کوفې ته تللی وو.

امام ابوحنیفه ،رح، په ۸۰ هجري کال په کوفه کې زیږیدلی او په ۱۵۰ هجری کال د عراق د بغداد په بنار کې وفات شوی دی.

امام ابوحنیفه ،رح، دهغه وخت له مشهورو علما و څخه ښیل ښیل علمونه زده کړل او د فقهي علم یې په کوفه کې د حماد څخه زده کړ کله چې حماد فوت شو نو شاګردانو یې په عراق کې امام ابوحنیفه ،رح، د فقهي د علما و د مشر په حیث وټاکه.

امام ابوحنیفه ،رح، د یو زیرک، هوښیار او پرهیزګار عالم و له همدې کبله وو ته امام اعظم (لوی امام)

وایي امام ابوحنیفه رح ، دیرامانت کارا وسخي
و ، له خپل مال څخه به یې دعلما ور اوشاګردانو
اکثره اړتیاوې پوره کولې. اوله بل چا څخه یې څه طمع
اُو اسره نه کوله

امام ابوحنیفه رح، په نړۍ کې دیر زیات پیروان
لري هغه خلك چې دامام ابوحنیفه رح دمذهب
پیروان دي، حنفیان بلل کیږي. موږ هم
دامام ابوحنیفه رح په مذهب یو.

لغت	معنی	لغت	معنی
وتاکه	غوره کړه	نړۍ	دنیا

امام حنیفه صاحب اصلاً څوك وو . له زده لوړنکو څخه وغوښتل شي
چې دامام حنیفه صاحب په هکله په خپله ژبه خبرې وکړي .



هغه وخت به د اسلام دښمن تباه شي
چې رښتيني ورورولي موږ کې پيدا شي
خان خاني لويه بلاده هلاکت دی
په کار موږ ته ورورولي او محبت دی
په وحدت کې به دښمن زير او زبر شي
مؤمنانو ته به جوړ هر خای آختر شي
که نفاق او بد بيني نه لاس په سر شو
نو هاله به پر دښمن بيا زور ور شو
اتحاد کې د مؤمن قوت زيا تيږی
په نفاق کې ولسونه محوه کيږی

منافق کوښښ کړي چې خند پيدا کړي
يو مؤمن له بل مؤمن څخې جدا کړي

هر انسان چې ماتوي وعده فاسق دی
چې وفا کړي په وعده باندی صادق دے

د صالح انسان خاصه پيژندګلو دي
د فاسد انسان عادت درزاچول دي

په نړۍ کې به اسلام حکمفرما شي
که نصرت د پاک الله زمونږ په خواشي

لغت	معنی
نفاق	بې اتفاقی، بیلتون
اتحاد	یووالی
فاسق	د دین څخه وتونکی، بدکار
نصرت	مرسته، کومک

یووالی

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا

د خدای (جل جلاله) په رسی (قرآن عظیم الشان) کښی

کښی

لری خدای ﷻ مسلمانانو ته په خپل مبارک کتاب (قرآن عظیم الشان) کې دیووالي حکم کړی دی او بی اتفاقی څخه یې منع کړي دي .

څنګه چې په اتفاق او یووالی کې د مسلمانانو دنیا او آخرت ګټې دي، نو له دې امله موږ ټول مسلمانان باید د خدای (جل جلاله) په رسی (قرآن عظیم الشان) منګولې ولګوو او د مسلمانی دغه حکم تینګ کړو. له بیلتون او ځانځانی څخه ډډه وکړو، په خپل منځ کې دوروولی فضا، منځ ته راوړو او د بلې خوشحالۍ

خوشحاله اوبه غم يې غمجن شو چې وکولای شو
هغه کتې تر لاسه کړو، کوې چې په دنیا او آخرت
کښې زمونږ د سعادت، نیکمرغۍ او بریالیتوب
سبب کرځي.

دا یو روښانه حقیقت دی چې په اتحاد او اتفاق
سره هغه مشکل کار ونه چې په ځانګړي دول
سره سرته نه رسیږي ترسره کیدای شي.

چې دا لاندې حکایت د دی موضوع د اثبات
او تایید لپاره یو څرګند او ښکاره مثال دی.

یو زاړه سړي د ځنکدن په وخت کې یو خو
غښې وترل او زامنو ته یې د ماتو لو لپاره وویل
هر یوه ته یې وویل چې خو مره زوره یې
چې پرې وکړه ماته یې نه کړه او بیا خپل عجز یې
اقرار وکړ او روسته بیا هغه زاړه تجربه کار

دغشو کوده واخیستل اوغشي پي يو يو مات
کړل او زامنوته يې وويل:

ای زامنو! که حقیقت ووایم نو ستاسې حال به
دغسې وي که موږ په خپل منځ کې اتحاد او اتفاق
درلوده، هیڅ قوي لاس به پرتاسې لاپاسه نه وي.
او که مونږ نېمګړي او بې اتفاقي وکړه، د دښمن پر
ضعیف لاس به تاسې مات ترې اوستاسې د اختلاف
څخه به ګټه اخلي.

شعر

یوه وږې چیرې په لاره تیریدم زه
ناڅاپي دوه پنې لاندې ودریدم زه
دوه مرغۍ شوې پاس په ونه کښې په جنګ
دوارې غوندې کلوله شوې په ډنګ

کرانو زده کوونکو :
دالاندي بيت په نثر واړوی.

که څوک کاندي اختلاف له خپله وروره
له دښمنه به پاملا شي له ضروره

زده کوونکو سره دي مرسته وشي چې د قران کريم ددي مبارکه آيات مفهوم په خپله ژبه بيان کړي .

زده کوونکي دي دخپل ښوونکي په مرسته د زاړه سړي قصه په خپله ژبه بيان کړي .

زده کوونکي دي دښوونکي په مرسته د شعر مفهوم په خپله ژبه بيان کړي .

د غونډ وسکي عزندې لاندې ولويدلې

پلیشو توپ کې دواړه يې غبرګې وينولې

چغ وپغ شو راوفريادې وکړه پيرې

ولې څه کيده چې وخت وځنې تيرې

نفاق د واړه د بلاپه خوله کښې ورکړې

غليم دواړه ريز مريز زيرا وزبرکړې

که څوک کاندې اختلاف له خپله ورورې

له دښمنه به پامال شي له ضرورې

فرض کړه داچې هميشه دښمن تياردی

دفرصت اود موقع په انتظاردی

لغت	معنی	لغت	معنی
مبارک	برکت ناک	عجز	کم زوری
څرکند	بسکاره	غليم	دښمن
کودډ	ګډی	ريز مريز	ميده، ميده

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

"په خپل وخت لمونځ کول ، د پلار او مور احترام کول ، د خدای جل جلاله په لاره کې جهاد کول"

تمرین :

له زده کړونکو څخه دالاندې موضوع ګانې وپوښتنه :

حضرت محمد ﷺ د حقیقي مسلمان په هکله څه فرمایلي دي ؟

حضرت محمد ﷺ په جمات کې په جماعت سره د لمانځه په هکله څه فرمایلي دي ؟

حضرت محمد ﷺ د مسلمان واکدار ، د خیانت په برخه کې څه فرمایلي دي ؟

حضرت محمد ﷺ د بنده د غوږو صفتونو په باب څه فرمایلي دي ؟

د پورتنیو حدیثونو مطلب په یادو زده اوښلو کنا بحث کې یې ولیکئ .

د فکر قوت

یوفقیر په یوه دښته کې پر دوو رکو اکښو پښې شو
چې په تلوار تللې ، فقیر دوی تدرویل .
زما په خیال چې په دې دښته کې موکرم اوښ ورک
کړی دی ، چې دګاوښ ښی ستر کې معنده او کښې
پښه لږ کوده وي ، دوی وهته وویل : هو .
فقیر وویل : لکه چې دمخه غاښونه لږ نه درلودل؟
دوی وویل : هو .
فقیر وویل : لکه چې یو اندی لږ دغنمو اوبل
لږ دمیوی وُ . دوی وویل هو . لکه چې وایې
دغسې دے مګر پرځپله لږ راته راوله . دوه ساعته
کیږي چې له موږ څخه ورک شوی دی ، او په لټه
کې یې سرګردان ګرځو . فقیر وویل : ما اوښ

په ستر ګونه دې لیدلی مګر ستاسی د ځفاستې
او ځلیني نورو لښو او علامو څخه مې دا معلومه کړه
چې اوس به موورک کړی وې او نوروبې صفتونه به
پکې وې .

کراکښو پې خبر دروغ وبلله ، ترکریوان پې
وښو او حکومت ته پې بوت .

حاکم چې هر څومره وپلټله . داسې خبره پې ځنې وانه
وریده ، چې دده پر غلا دې دلیل شې . نو پې وویل
چې : دا فقیر جادوګر دی او باید جزا وویني .
فقیر وړته وویل : چې زه غل نه یم او نه کودګر .
دیره مودې کیږي چې په صحرا کې ګرځم . اوبدې
یواځې توب کې د شیانو د دید او تامل مشق کوم
د خپلو کتنو څخه مې دا معلومه کړه ، چې پردې
لیاری ترهاد څخه یوا وښ تللی دی او څرنګه چې د

خوا وابنه سلامت پاتي شوي دي اوکيني خرانه
پل نه وُ نولدي څخه دا معلومه شوه چي اوښ په
يوه ستر کې ډوبوند او يوه پښه يې کږه ده . او څنګه
چې دوښو سره نه سلامت پاتي شوې و ، نو معلومه
ې کړه چې دا وښ دمخ عاښونه لګښته او څرنګه
پيچ بنې خوا نه ميز يا نور غنم چلوي ، او کيني
خرانه مچان تول شوي وو ، نو پوه شوم چې نيم بار
يې دميوې او نيم بار يې دغنمو دی .
څرنګه چې دسمې پل وړه نه و ، لدې څخه مې
دا نتيجه واخيسته چې اوښ له خاوند څخه لښتيدلی
او په دې لارللی دی .
خلك دفقير د فکر قوت ته حيران شول ، او حاکم
دی پرليسنود .

لغت	معنیٰ
تلوار	عجله، چالاکي
اندی	نیم بار
خُفاسته	هنده
کودکر	جادوګر
پَل	دقدم نښه

محترم ښوونکی دې دښه فکر په پاره کې زده کوونکو ته معلومات ورکړي. اوله زده کوونکو څخه وغواړي چې یوه دقیقه دخپل تولګی دپاکوالی پخاطر فکر وکړي اوبیا هریو خپل نظریان کړي وروسته دفکر کولو داهمیت په هکله خپل نظریان کړي .

شعر

دنیا دار که مستغني په سیم وزر دی
هنرمند وسره ګنج د خپل هنر دی

بیهوده به زور ور و ځان ته والي
د دنیا سړی که هر څو زور ور دی

هسي مه وایه چې زه یم په جهان کې
پیدا کړی خدای د سر د پاسه سړی دی

ځیني ځیني یې ولیان پیغمبران کړل
نه چې هر سړی ولي او پیغمبر دی

که د عمر و رفتن ته څوک نظر کړي
دا به والي چې آفتاب د مازدیګر وی

چې یې سر په ځمکه ایښی وو یا رته
په آسمان باندې ختلی لکه لمر دی

دریاخرقه خدائ مکړه ورپه غاړه
ارحمن، کوه د ستا رتمالی قلندر دی

محترم ښوونکی دې پوښتنه درس په ساده الفاظو
سره زده کوونکوته معنی کړی
کرانو زده کوونکو !
لاندې بیت په نثر واړوئ .

هسې مه وایه چې زه یم په جهان کې
پیدا کړی خدای دسر دپاسه سردی

رحمن بابا

ښاغلی ښوونکی !

زده کوونکو سره مرسته وکړی چې هریت په صحیح توګه سره ولولي
او مفهوم یې بیان کړي .

د کال څلور فصلونه

کال څلور موسمه لري ، چې هر موسم ته يې فصل وايي لکه :

پسرلی

دوبی

منی

ژمی

۱ـ پسرلی : د کال لومړی فصل دی .

د پسرلي د فصل لومړۍ ورځې ته نوروز وايي .

د نوروز ورځ ، نوی کال لمټیر کال څخه جلا کوي .

د حمل اوله شپه او ورځ سره برابره وي . شپه دوولس ساعته او ورځ هم دوولس ساعته وی .

د پسرلي فصل درې میاشتې دی :

۱ - وړی (حمل)

۲ - غوږي (ثور)

۳ - غبرګولی (جوزا)

دحمل لمړاول څخه وړځې اوږدیږي چې دجوزا تر پای پورې دوام کوي .

دجوزا وروستی وړځ خورا اوږده وړځ اوشپه یې خورا لنده وي . په پسرلي کی هرا معتدله اوښدي. کښتونه شنه کیږي ، بوټي اوولې غوڼی کوي. دونو پاڼې وړځ په وړځ لویږي .غږونه رغونه اودښتې شنې ښکاري ، انسان چې هرې خواته وګوري ، دشنو ونو، کښتونو اورنګارنګ ګلانو له لیدلو څخه خوښیږي .

۲ - دوبی : دکال دویم فصل ته دوبی وایي چې تر پسرلي وروسته راځي .

په دوبي کې هوا توده وي. پدې فصل کې زمونږ د وطن په زیاتو سیمو کې توت، مني، ناک، آلوبالو، کیلاس اوځیني نورې میوې پخیږي.

دوبی د بزګرانو د فصلونو د ړیبلو او راټولولو وخت دی. د دوبي موسم هم درې میاشتې دی:

۱ - چنګاښ (سرطان)

۲ - زمری (اسد)

۳ - وږمی (سنبله)

د سرطان له لومړۍ ورځې څخه ورځې په لنديدو شي او بیا د میزان په اول د حمل د لومړۍ ورځې په شان شپه او ورځ سره برابریږي.

۲ - مني: مني د کال دریم فصل دی، چې تر دوبي وروسته راځي.

پـدې موسم کې هوا د پسرلي په شان معتدله وي.
انګور ، انـار ، خټکي ، هندوانې ، مڼې ، نـاک
اوداسې نور په دې وخت کې پخـیږي. په دوبي کې کومې
دوښ پانې ژیړې اوبیـا وړو وړو توتـیږي
خلك په دې فصل کې دژمي لپاره لرکي ، سکارۍ
او خوراکي شیان برابروي . مني هم دې میاشتې
دی :

۱ـ تـله ، میزان ،
۲ـ لړم ، عقرب ،
۳ـ لیندۍ ، قوس ،

دوږو لنډیدل د سرطان له لومړۍ وړځې څخه شروع
کیږي ، او د قوس تر پایه پورې د وام کوي
د قوس وروستۍ وړځ خورا لنـډه اوشپه
یې خورا اوږده شـپه وي .

إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ

ښکاره همدا خبره ده چې ویریږی لله تعالی څخه صرف د دغه الله پوهیدونکو عالمان

علم

علم د انسان د سعادت او نیکبختۍ سبب دی . لدې امله د اسلام ستر پیغمبر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د علم په باره کې داسې فرمایلي دي چې : « د علم زده کړه پر هر مسلمان نارینه او مسلمانې ښځې فرض ده » لدزانګو څخه تر قبره پورې د علم په زده کړه کې کوښښ وکړئ .

لکه څنګه چې سړی د لمر او سپوږمۍ په رڼا لاره وینې له ګرنګونو څخه ژغورل کیږي ، او په سمه لاره خای ته رسیږي . همدغه شان د علم په رڼا کې هم انسان ته د ژوندون ښې لارې پیدا کیږي او خپل مقصد ته رسیږي . انسان باید له علم او عرفان

پدے وخت کې شپه څوارلس ساعته اوورځ لس ساعته وي .

٤ - مړۍ : دکال آخرنی اوځلورم فصل ته مړۍ وایي . په دې فصل کې هوا سړه وي ، ځینې ځایونه اوغړونه په واوړو پټ اواوبه یخ وي .

خلك دمړۍ دیخنۍ له املې په ځنګلو کورنیو کې صندلې اوبخارۍ بلوي ، پنډ او وېښ کالی اغوندي دافصل هم درې میاشتې دی :

١ - مرغومی (جدی)

٢ - سلواغه (دلو)

٣ - کب (حوت)

وروستی دجدی له لومړۍ نیټې څخه دجوزا تر پای پورې وړځې په وړځ اوږدیږي .

د حمل په لومړنۍ ورځ سره برابر یږي .
پر شمنو مسلمانانو لازمه ده، چې له غریبو او بیچارو خلکو
سره هر وخت مرسته وکړي ، په تیره بیا
د زمي په موسم کې .

پوښتنې

۱ـ کال څو فصله دی نومونه یې واخلی ؟
۲ـ د پسرلي د میاشتو نومونه وایاست ؟
۳ـ د کال دکوم فصل په میاشتو کې شپه او ورځ سره برابریږی ؟
٤ ـ (تله) لرم ، (لیدی) د کوم میاشتو نومونه دي ؟
٥ ـ د ورځو لنډیدل څه وخت پیل کیږي او څه وخته دوام کوي ؟
٦ ـ د کال وروستنی فصل څه نومیږي او د میاشتو نومونه یې وایاست ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

پته : ----- نیته ----

بلنلیک

گرامنه وروره حمید الله جان ،

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ،

مونږ تول د خدای جل جلاله په فضل سره روغ رمټ یو او ستاسې روغتیا له لوی څښتن جل جلاله څخه غواړو .

درامتلونکې پنجشنبې ورځ د عبدالله وادۍ ورځ تاکل شوېده ، دیر نور د وستان موهم راغوښتي دي . هیله کوم چه تاسې هم دنومورې ورځې په ۱۲ بجولږموزنمۍ په دې خوښۍ اوميلمستیا کې ګډون وکړئ .

والسلام : عبدالکریم ،

يتيم

يتيم هغه چاته وايي چې پلار يې مړشوی وي . د پلار له دوستی ، محبت اولار سره وني څخه بې برخې وي . يتيم کله چې خان بې پلاره وينې ، د کمی او کمزورتيا حس کوي او په وجود کې يې ديره وخت احساس پيدا کيږي .

کله چې نور و هم زولونه ګوري چې پلرونه يې ورسره مينه کوي او هر شی ورته اخلي په باطن کې غمجن کيږي نوله دې کبله د اسلام په مقدس دين کې د يتيمانو سره مينه کول ډير اجر او ثواب لري لکه يوشاعر چې وايي :

چې پرې پښې شې د يتيم زړه کړه خوشحاله

چه لوی خدای په هغه دم له تاسې خوشحاله

چې يتيم د زړه له سوزه په ژړا شي

په هغه ساعت په لرزه عرش معلا شي

خدای ﷻ ته عرض کړي ما پريږده چې خطا شم

چې يتيم يې ژړولی په هغه چا شم

بې چاره يتيم چې هر څوک په ژړا کړي

قهار خدای ﷻ يې دوزخ ته ورخطا کړي

او که څوک يتيم خوشحاله په خندا کړي

لوی خاوند ﷻ به يې نصيب جنت ماوا کړي

مبا غلی ښوونکي دې له زده کوونکو څخه وغواړي چې د يتيمانو نومونه اخلي . او زده کوونکو ته دې لارښوونه وکړي چې د يتيمانو سره د مرستې په هکله خبرې وکړي .

دُعا

لویه خدایه! داسوالونه موقبول کړې
مسلمان اُمت په خپل درکې مقبول کړې

دوحدت مینه پیدا کړې مسلمان کې
لکه تاچې فرمایلې په قرآن کې

مؤمنانو باندې خپل رحم کرم کړې
کافرانو باندې جوړ هر ځای ماتم کړې

هر مسلم کې دجهاد جذبه پیدا کړې
د دښمن پر خونه جوړه واویلا کړې

هر مؤمن په خپل مقصد باندې کامیاب کړې
د طاغوت قافله غرقه په سیلاب کړې

ARIC
B
6.42 1
M10 E
842 5V.6

په مایِن باندی ځسوهل د سر خطر لری!



UNO - Flüchtlingshilfe

د چاپ شمیر: . . . . . .

د افغانستان له پاره تعلیمی پروژه
د چاپ حق محفوظ دی

PROPERTY OF
ARIC
Established
1988

د یو اِن اِچ سی آر (UNHCR) په مالی مرسته

چاپونکی: داکټر مطبعه

مجاهد باندې نظر د رحمت وکړې
د اسلام د سنګر و حمایت وکړې
بنده ګی او عبادت کی همت غواړو
د دښمن مقابله کې نصرت غواړو

مناغلی ښوونکی !
زده کړونکو سره دې مرسته شی چې دوه لومړی ښټرنه حفظ او بیا یې د تهلګی په مخ کې ولولی .

مرغ مینه ولري اوپه دې پوه شي چې بې علمه انسان
دمرانده مثال لري ، داځکه چې روند لدیوې خواسمه
لارنه وینې اولدبلې خوا دژوندانه په ټولوچارو کې
نورو انسانانو نه ارومي .
همداشان بې علمه اوناپوه انسان هم دخپلې بې علمۍ
اوناپوهۍ په سبب دخپل ژوندانه په ټولو کارو کې
نورو انسانانو نه محتاج وي .
دهرشي په ښه والي اوبدوالي کې خلك خبرې
کوي چې ځینې کسان ورته ښه وایي اوځینې یې بد
بولي ، مګردعلم په ښه والي کې هیڅوك شك اوشبهه
نلري . که سړی له هرچا څخه پوښتنه وکړي چې علم
څنګه شی دی . هغه به یې هرومرو په ښه والي اقرار
وکړي اووبه یې ستایي که څه هم په تکي به
نه پوهیږی اوهیڅ یې نه وي لوستلي .

ددي لپاره چې له يوې خوا د خداى جل جلاله او د حضرت
محمد صلى الله عليه وسلم په اوامرو باندې په صحيح دول
سره ځان پوه کړو او لکه څنګه چې بيايې همغه دول
يې سرته ورسوو او له بلې خوا په ژوندانه کې
د نورو خلکو له احتياج څخه خلاص شو، نو
لازمه ده چې د علم په زده کړه کې کوښښ وکړو
او ورلپسې وکړو .

که سپين اوسره يې په کورکې تل وي چې نه يې علم نه يې عمل وي
بنيادي نشته اخر به خرابي شي بخت به ترکومه ورسره مل وي

(عبدالقادر خټک)

ګرانو زده کوونکو :

د علم په بارې کې يو څو کرښې مقاله وليکئ .
د علم په بارې کې د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم احاديث يا د اوچلو
کتابچې ته يې ورسوئ .

۱۳- ښوونکی باید تدریس په وخت کې خپل زده کوونکی ارزیابي کړي.

۱٤- ښوونکی ته لازمه ده چې دزده کوونکو په منځ کې دښه نیت او ورور ولی فضا برابره کړي .

۱۵- ښوونکی باید خپلو زده کوونکو ته په تدریس کې برخه ورکړي.

۱٦- ښوونکي دې ددرس دمؤثره کېدوپه خاطر خپل زده کوونکي وپېژني.

۱۷- ښوونکي دې ددرس په پای کې زده کوونکو ته دپوښتنو کولو حق ورکړي .

۱۸-ښوونکی دی زده کوونکو ته کورنی وظیفه ورکړي .

۱۹- ښوونکی دی په تدریس کې له محیطي ، ساده او ارزانو مواد و څخه کار واخلي .

۲۰- ښوونکي دې په داسې ډول د زده کوونکو پوښتنوته ځواب ووایي چې په راتلونکی کې د دوئ دپوښتنو کولو استعداد کمزوری نشي .

۲۱- ښوونکی دې زده کوونکي وپوهوي چې ددې کتاب تمرینونه خپلو کتابچو ته نقل او حل کړي .

PROPERTY OF
ARIC
Established 1990

پښتو

دپنځم تولګي لپاره

لیکوال: محمد صدیق کامران

۱۳۷۶ کال

پښتو

د پنځم ټولګي لپاره

لیکوال : محمد صدیق کامران

بیاکتونکی : د ښوونې او روزنې وزارت او تعلیمی مرکزګډ کمیسیون

۱۳۷٤ کال

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

په هيواد کې داسلامي انقلاب له بريالیتوب راوروسته دهيواد په ټولنيز رغښت کې اساسي بدلونونه رامنځ ته شول. له دې اساسي بدلونونو او ټولنيزو څرګندو غوښتنو سره سم دښوونې او روزنې وزارت وپتيله چې دښوونځيو تعليمي نصاب دښوونې او روزنې په برخه کې داسلامي دولت له پاليسيو او اهدافو سره سم داسلام دسپيڅلي دين پر اساساتوو دروي. له همدې املې نوی تعليمي نصاب جوړ او دلازمو پړاوونو له تيرولو وروسته په عمل کښې پلی شو.

دنوی تعليمي نصاب پلی کولو دا اړتيا رامنځ ته کړی چې په دغه نصاب کی شامل مضمونونه دنويو مفرداتو له مخې له سره تدوين او تأليف شي. له نيکه مرغه دجهاد په څوارلس کلنه موده کې دهيواد داولاد دسمو روزلو په خاطر يو شمير درسي کتابونه دتعليمي مرکز له خوا له هيواد نه بهر (پيښور کې) تدوين او تأليف شوي وو. دی کتابونو دحجم او محتوا له مخې دهغه وخت له غوښتنو او شرايطو سره سمون درلود، خو داسلامي دولت له بريالیتوب راوروسته زمونږ دټولنې دڅرګندو اړتياوو او په هيواد کی دښوونې او روزنې دمرکزی سيستم له مخې بايد ددی کتابونو په متن او محتوا هر اړخيزه نوی کتنه وشي. له همدې املې دښوونې او روزنې دوزارت دتاليف او ترجمې رياست وګمارل شو چې دتعليمي مرکز دماهرانو او ليکوالو په مرسته موجوده کتابونه دنويو مفرداتو له مخې چې دواړو خوا و.مخکې له مخکې چمتو کړي وو، له سره وګوري او په هغو کې لازم تعديلات او سمون راولي ددی

کار لپاره ددواړو لوړیو دماهرانو او علمی غړو یو ګډ کمیسون په کار پیل وکړ.

دکمیسون غړو دنوو مفرداتو له مخې له اول ټولګي څخه تر دریم ټولګي پورې په درسي کتابونو له سره کتنه وکړه او په هغو کې داسلام دسپیڅلی دین له اساساتو، دافغانستان داسلامی دولت دپالیسي او فرهنګی اهدافو سره سم او دافغاني ټولنی دغوره ارزښتونو په نظر کې نیولو سره، دعلمی او فرهنګی معیارونو پر بنسټ، په ملي او بین المللي سطح دهیواد دبچیانو دښوونې او روزنې لپاره لازم بدلونونه راوړل شول.

دپورتنیو غوښتنو له مخې یې دمضامینو په مفرداتو له سره په نوی کتنی سره ددرسي کتابونو متن او محتوا اصلاح کړه. په همدی ډول دتعلیمي مرکز دمؤلفینو او دتألیف او ترجمې دریاست ددیپارټمنټونو دغړو له خوا په ګډه سره له ٤ څخه ١٢ ټولګي پورې په درسي کتابونو نوی کتنه وشوه او په هغو کښی لازم بدلونونه راوړل شول.

هیله لرو چې دا هلې ځلې، پدي سره په پوهیدلو چې ددرسي کتابونو تجدید نظر یوه اوږده پروسه او له پلي کیدو څخه مخکې دازمایښتونو او دتجربو دسرته رسولو مستلزم ده، دکار پیل وي او دلوي خدای جل جلاله په مرسته خپلو سپیڅلو اهدافوته ورسیږو. هیله منده یو چې دهیواد دمحترمو پوهانو، مسلکي شخصیتونو ښوونکو او نورو مینه والو هر اړخیزي مرستي او رغنده وړاندیزونه زمونږ ددی کار دبشپړ برې ضمانت وکړی.

و من الله توفیق

دتالیف او ترجمې ریاست

دښوونکي لپاره لارښود :

۱- ښوونکی باید له پاکو جامو سره ټولګي ته ننوځي .

۲- ښوونکی باید ټولګي ته له ننوتو مخکی درسي پلان ولري .

۳- درسي پلان باید د درسي ساعت مطابق جوړ شي .

۴- ښوونکی په تدریس کي له ډول ډول روشونو څخه کار واخلي .

۵- ښوونکی باید په ټاکلي وخت ټولګي ته داخل شي.

٦- ښوونکي باید خپل ځان ډېر همکار په توګه زده کوونکو ته وروپېژني .

۷- ښوونکي باید دنوی درس په پېل کی بسم الله الرحمن الرحیم ووایي .

۸- ښوونکی باید ټولګي ته دننوتو په وخت کې سلام واچوي .

۹- ښوونکی باید دتدریس لپاره ښه فضا برابره کړي .

۱۰- ښوونکی باید دزده کوونکو حاضري واخلي .

۱۱- ښوونکي باید دزده کوونکو کورنی کار وګوري او اصلاح یې کړي .

۱۲- د(کلمو الناس علی قدر عقولهم) مقولې په نظر کې نیولو سره ښوونکی باید دزده کوونکو له سویې سره سم درس ورکړي .